

معراج الدین « شمس»

د نشر نیټه : 26 فبروری 2016 م

خاطرات دوستان در مورد مولانا « سعید افغاني »

هفت حوت 1394 خورشیدی مطابق « 26 فبروری 2016 م » مصادف است به سي و یکمین « 31 » سالگرد وفات مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغاني » عالمی جهید در علوم فلسفه و تصوف اسلامی ، دانشمندی وارد تاریخ و فرهنگ کهن سال کشور و منطقه است ، که بدینوسیله فشرده یکتعداد از خاطرات دوستان را تهیه و تقدیم مینمایم .

روح مولانا « سعید افغاني » شاد و جنت فردوس نصیبش باد !

معراج الدین « شمس »
26 فبروری 2016 م
کابل ـ افغانستان

څېړندوی عبدالله بختانی « خدمتګار »

د سولی او تفاهم دلیارې مبلغ
دوکتور سعید افغانی

مولانا محمد سعید « سعید افغانی » مدال طلایی بنام « جایزه بین المللی ابن سینا »
را بخاطر مبارزه به صلح و آرامش بدست اورده است

دوکتور محمد سعید « سعید افغانی » زمونږ د هیواد مشهور عالم ، لیکوال ، مولف، استاد او اجتماعي شخصیت و چه تل یی د سولی ، ترقی ، وروری ، برابری او تفاهم لپاره مبارزه کوله، د دی نومیالی پوه درونډ نوم هم په وطن کښی او هم د نړی په نورو هیوادونو کښی خپور او مشهور دی .
په دوکتور سعید افغاني باندی، د هغه د ژوندانه کلونه ، په لوستلو ، تدریس کولو ، لیکلو ، تالیف ، موعظو او خطابو تیر شو، هغه به دسولي ، امنیت ، تفاهم، دوستي ، وروري ، برابري ، اجتماعي عدالت او انساني کرامت لپاره په دم ، قدم او قلم مبارزه کوله .
دی پسی و چه د هیواد ملایان ، د علم طالبان او نورو خلک د نوی ژوندانه په مترقي لارو چارو پوه او منور خوانان او روښانفکره زلمیان د دین له مبادیو سره آشنا شي او د ملی فرهنګ او ديني اخلاقو رعایت وکړی .
هغه یو ملي ، مترقي ، مذهبي شخصیت و چه تل د خلکو او اولس د ضرورت غوښتنو د ملاتړ په لیکو کښی دریدلي دی . په زلمیتوب کښی یی د ویښ زلمیانو له هدفونو څخه روحیه اخستی او دهغو ننګه یی کړی ده . په سفر کښی یی د خپل هیواد تاریخي او فرهنګي ویاړنی نورو اولسونو ته معرفي کړی دی .

د ژوندانه د پو خوالي په عمر يی د هيواد د خلکو د ملی دموکراتيک غور زنګ ملاتړ کړی دی او د دين د حقيقتونو د ځرګندولو په ذريعه يی هغه ارتجاعي دسيسي افشا ء او شنډی کړی چه زمونږ د خلکو ، وطن او نهضت په ضد وی .

د ژوند د پای په کلونو کښی يی د سراسری سولي او امنيت او ملي روغي جوړي د تامين لپاره يی هڅه کوله ، په هيواد او نړی کښی يی سوله او تفاهم غوښت او کاريی ورته کاوه.

دغه قطعه ما ليکی ده او د دوکتور سعيد افغاني د شناختی د مرمرو په ډبره کنيدل شوی ده :

په لـوستلو ، لـو لـو لـو او ليکـلـو
د پـوهنـی د ډ يـو ی لانـدی کـارونـه
فضـيلت او شـرافـته سره تـير شـول
په(دوکتورسعيد افغاني) دری شپيته کلونه

« دوکتور سعيد افغانی » د ابجد په حساب « ۱۹۲۲» کيږی ، چه دا د نومورې د تولد ميلادي کال دی . هغه « دری شپيته کلونه » ژوند تير کړي دي چه د اسلام د پيغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه و سلم د ژوندانه له کلونو سره برابر دی .
چه پر « ۱۹۲۲ » باندی « ۶۳ » واچوو بيا نو « ۱۹۸۵ » تري جوړيږي او دايي د وفات ميلادي کال دی .

خدای دی يی وبخښي
عبدالله بختاني « خدمتګار »

مرحوم مولوی محمد هاشم « کامه وال »

شخصیت مولوی دوکتور سعید افغانی

(دوکتور صاحب سعيد افغانی ؛ صاحب قوه قدسيه بود ؛ از نفس خويش برآ مده و گذشته بود، دائماً در فکر حصول سعادت و آرامی برای کافه بشريت علی الخصوص برای اهل اسلام و اهل وطن محبوب خود بود و ...)

به یاد دارم که :
ماه مبارک رمضان رسید و پادشاه وقت در جلال آباد بودند و در مسکن شاه « باغ کوکب » سرشته ختم کریم در اثنای نماز تراویح که در مذهب حنفی « رح » عبادت های مسنونه است گرفته شده بود ، در آن اشتراک ورزیدند. مدیر صاحب نجم المدارس « مولوی سعید افغانی » با چند نفر استادان مدرسه نیز در آن ختم شرکت کرده بودند ، درشب اخیر ختم طوریکه تعامل است سخنرانی های اجتماعی و موعظه ها دینی ایراد میگردد .
مولوی صاحب محمد سعید « سعید افغانی » فرصت را غنیمت دانسته بحضور پادشاه آیه قرآن کریم را تلاوت ، ترجمه و تفسیر نمودند از اثر درد دل که با آمور وطن و بهبود آن برای بهبود اهل وطن داشتند به جرئت حق گوئی ضمناً خطاب به پادشاه گفت :

اگر چه در قانون اساسی ذکر گر دیده که پادشاه شخصاً واجب الاحترام وغیر مسؤول اند ، آیا شما فرمانی را صادر کرده اید و از علماً و خطباً خواهش کرده اید که به یادداشت کلمه بنده خدا « ج » در خطبه بشما دوعا بکنند و بنده شرعاً به نزد خالق رب العالمین مسوولیت داشته می باشد بلکه در ذهنیت عامه کافه ملت و رعیت نیز مسوولیتی دارید .

خواهش میکنم ؛ تا شخصاً نیز قبول زحمت فرموده به امور اداره عامه وطن توجه کرده و جلو خود سریهای بعضی مامورین بزرگ را بگیرید و ...

فردا آن مولوی صاحب را وزارت معارف خواسته و به حیث معلم مکتب ابتدائی در شهر کابل مقرر شدند و مولوی صاحب به صبر و استقامت از این فیصله استقبال کرد .....

نوشته و صحبت : مولوی محمد هاشم « کامه وال »

۹حـوت ۱۳۶۳ هجری شمسی
مسجد جامع شیر پور ـ شهرکابل

مـولوی غلام سرور « منظور »

اروابنـاد مولانـا سعید افغانـي



واقعیت دا دی چې د روحـانیت پـه مقام کې داسی اشخاص لکه د سعیدافغاني ، په څیر مـونز ډیر کم پیژنو . ځکه دې هـم عـالم و هـم روحاني ؛ هـم مـلا و او هـم خطیب ؛ هـم سیاست

مدارو او هــم پخپله لیاره کې ریښتني ؛ هــم په فلسفه کې وارد و او هم په الهیاتــو کې ؛ ده هم په ديني علــوم کې لاس درلــوده او هــم په اجتماعي علــوموکي ؛ دې هــم محقق وو او هــم ژورنالیست !

څه شی چې زما په نظر ډیر د یادوني وړ دی هغه دا چې :
مولانا صاحب د کورني او بهرني سولی ته ډیر ه زیاته توجه در لوده ، ده د سولي د ټینګښت په خاطر ډیری زیاتی مقالي ، موعظي ، ديني مضامین ، کتابونه او رسالی لیکلي دی ، چې هر یو یی د ډیر زیات ارزښت لرونکي دی .
ډاکتر صاحب عالم وو ، او عالمان ور باندی ډیر سخت ګران وه ، او عالمانو ته به یی همیشه داسي خطاب کاوه :
« چې سوله تبلیغ کړی ، ورور ګلوی تبلیغ کړی ، د انسان انسانی کرامت تبلیغ کړی ، فقر ، فلاکت ، دربدری ، بی عدالتي ، لوږه ، بی کوري او اجتماعي مظالم چې اصلاً د اسلام مبین دین یی په کلکه غند نه کوی، د اسلام له نظره و څیړی او اضرار یی ټولو مسلمانو او زیارایستونکو هیواد والو ته ، روښانه کړی .»
دی پدی عقیده و چې : مــلا امام ، خطیب او نور ديني او مــذهبي مسوولین د نورو هیواد والو په وړاندی ډیر درانده مسوولیتونه لری ، را پیدا شوی ستونزی باید عالمان او روحانیون په مبتکر رانه توګه تشریح او توضیح کړی .

مولوی غلام سرور « منظور »

****

سر محقق محمد صدیق « سیلانی »

مولانا سعید افغانی

نما یی از مسجد شریف جامع مو لوی سعید افغا نی‌واقع مکرور یان سوم که‌تحت اعمار قرار دارد .

نشریه شماره چهارشنبه ۲-۱۲-۱۳۶۹ هجری شمسی ، شماره ۶۱ ، دوره دوم ، نمبر مسلسل۱۲۴ شورای عالی علما و روحانیون جمهوری افغانستان

مرحوم مولانا محمد سعید « سعید افغانی » از شخصیت هـای فرزانه و در عین حال مبارز کشور عزیز ما افغانستان است .
وی بیشترین سالیان زندگی پر بارش را وقـف ایجـاد آثار علمی و تعلیم و تـربیت نسل جـوان کشور به روحیه وطنپرستی و صداقت و خدمت به مردم نموده و در ردیف آنعده فرزانه مردان قرار دارد که دست اندر کاران دانش و معرفت جامعه افغانی بر افکار و اندیشه هایش حساب میکنند .

سر محقق محمد صدیق « سیلانی »
حوت ۱۳۶۹ هجری شمسی

فضل الرحمن « فاضل »

د شرق نابغه سید جمال الدین « افغاني »

در عکس : محصلین افغانی پوهنتون الازهر جمهوری عربی ، سال 1966 قاهره

لکه چې پوهیږو د شلمي پیړۍ په دویمه نیمایي کښې ، افغانستان د ازهرپوهنتون ته محصلین د زدکړو لپاره لیږل پیل کړل، که په دقیقه توګه د هغو محصلینو ترمنځ بررسي ترسره شي ، د همغه محصلینو په ډله کښې د دکتور محمد سعید افغاني نوم په سر کښې راځي، چې د زدکړې په وخت کښې پدې هیواد کښې په عربي ژبه د ده لیکنې هم چاپ شوئ .
د لیږل شوي محصلینو ترمنځ ځیني نومورو هم شتون درلود چې وروسته د افغانستان په سیاسي او علمي ډګرونو کښې ښه و ځلیدل چې پوهاند غلام محمد نیازي، استاد برهان الدین رباني، استاد عبد رب رسول سیاف، حضرت صبغت الله المجددي، پوهاند عبدالسلام عظیمي، پوهاند وفی الله سمیعي، محمد موسی شفیق، محمد صدیق سیلاني، عبدالقیوم رهبر، سیف الرحمن سایف، عنایت الله رشید، پوهاند محمد کبیر، پوهاند غلام صفدر پنجشیري، جوهر صدیقي، پوهاند نعمت الله شهراني، ډاکټر سیدجان بیان، محمد ګلاب بشار، پوهاند عبدالعزیز، پوهاند غلام محی الدین دریز او په لسګونو نور چې د خپلې دورې لایق محصلین وۀ. ددی ځلیدلی کسانو په جمله کښې راځي، مګر د خپلې تحصیلي دورې په موده کښې چې په مصر کښې اوسیدل د عربي او مصري مخاطبانو ترمنځ یې د خپلو آثارو او تالیفاتو نشر کولو ته پاملرنه ونه کړه .

څيرنى څرګندوي چې يوازې دکتور سيد محمد موسى « توانا »خپله د دوکتورا رساله يا تيزس په ۱۹۷۱ م کال کښې د « الإجتهاد ومدى حاجتنا اليوم في العصر الحاضر » تر عنوان لاندى او همدا رنګه دکتور عنايت الله ابلاغ خپله رساله د « امام أبوحنيفة المتكلم» تر عنوان لاندى په قاهره کې د زدکړى پاى ته رسولو وروسته چاپ کړئ، دوه کتابونه چې په عربي نړۍ کښې خاص شهرت لري او آن تر دى چې د « ۱۹۷۱ م » کال څخه را پديخوا چې چا د اجتهاد (په هکله کتاب ليکلى هرومرو د پوهاند دکتور سيد محمد موسى « توانا » اثر يې د عمده مرجع او سرچينې څخه شميرل کيږي .

ولې دکتور محمد سعيد افغاني له دوي نه د مخه خپل مهم کتابونه لکه نابغة الشرق (په ۱۹۶۷ م) کال کښې او همدارنګه شيخ الإسلام عبد الله الأنصارى الهروي، مبادئه وآراؤه الكلامية والروحية

(په کال ۱۹۶۸ م) کښې په قاهره کښې چاپ کړل، چې پدى لړ کښې د نورو څخه مخکښ دي. که څه هم د شلمې پيړۍ په وروستيو او د يوويشتمى پيړۍ په لومړيو کښې خداى بخښلي دکتور محمد امان صافى خپل څو اثار په قاهره کښې چاپ ته ورسول، ولې د ده ګټور کتابونه د هغه دوري وروسته چاپ شول چې په مصرکښې هستوګنه غوره کړه او دعربي هيوادونو په پوهنتونونو کښې د استاد په توګه وظيفه ترسره کوله، مګر د دکتور « سعيد افغانى » ښوالى پدى کښې و چې د تحصيل په دوره کښې يې خپل کتابونه چاپ کړل او د زدکړو پاى ته رسولو وروسته ، افغانستان ته ولاړ .



د يادونې وړ ده چې هغه کسان چې مصر ته د زدکړو لپاره راتلل لکه : استاد برهان الدين رباني او داسى نور، دوي په هيواد د ننه د مجلو او ورځپاڼو سره د ليکنو او د همکارئ تجربه درلوده ولې د دوي ترمنځ يوازيني کس سعيد افغاني ؤ چې قاهرى ته د تګ څخه مخکې د نجم المدارس مديريت په غاړه درلود او په هغه مدرسه کښې د « النجم » په نوم جريده په « ۱۳۳۷ هجرى لمريز» کال کښې د زدکوونکو د پوهې له پاره تاسيس کړه، همدارنګه يې د « اخلاق » په نوم نشريه هم د حبيبيې په ليسه کښې د تدريس په وخت کښې د اساس ډبره ايښې وه تر څو زدکوونکې ليکنى او شاعرى ته تشويق کړي.

فضل الرحمن « فاضل »

خوش درخشید ولی دولت مستعجل بود

دکتور سعید افغانی نه تنها یک طالب العلم ، با استعداد سرشار و خسته گی ناپزیر در آموزش علوم عصر خود بود ، بلکه عالمی جهید در علوم فلسفه و تصوف اسلامی ، دانشمندی وارد تاریخ و فرهنگ کهن سال کشورو منطقه خویش و در تمام این عرصه ها استاد توانا و آموزگار هنرمند و دانایی نیز بود .

دکتور سعید افغانی ، بنابر موضوعگیریهای وطنپرستانه ، ژرفای دانش و احتوای کامل برعلوم و فلسفه اسلامی در حلقه علما و روحانیون وطنپرست کشور ، همیشه جا یگاه رفیع و در خور اعتبار واعتماد داشت و به دوراز تبعیض و تعصب ملی و مذهبی ،به مصالح کشور می اندیشید و میکوشید جنبش صنفی استادان و محصلان را در محیط کار و حلقه تدریس خویش ، به نیروی پشاهنگ نهضت ملی و دموکراتیک تبدیل کند .

او عادل ، درستکار، مهربان و صلجو بود ؛ با همه چیز و همه کس با حوصله و فراخدلی برخورد میکرد ، اهل منطق و استدلال بود و از استبداد رای نفرت داشت و ...

دوکتور سعید افغانی ، تا جایکه من میدانم ،با هیچیک ازاحزاب سیاسی در داخل نهضت تعهد خاصی نداشت ،مگر شخصیت مورد احترام همه نیروهای سیاسی ملی و طرفدار دموکراسی در کشور بود ، اما « جبهه ملی پدر وطن افغانستان » هم جبهه اید ال او نبود .

او روزی با خلق تنگی و یژهیی به من گفت :

این جبهه آن جبهه یی نیست که تو سالهای قبل از آن سخن گفتی ؛ این جبهه مانند شتری در دامن حزب شما ؛ به گل نشسته است و مثل سایر سازمانهای اجتماعی و اتحادیه های صنفی در کشور ، بیشتر به شعبه یی از تشکیلات حزب شما می ماند ، تا جبهه متحد تمام احزاب و نیرویی ملی و دموکراتیک مستقل از آن ؛ بنابر آن روز به روز از مردم تجرید می شود و نیروی تحرک و جاذبه خود را برای جذب نیرو ها و شخصیتهای با وجاهت سیاسی از دست میدهد .

من این سخنان اعتراض آمیز او را رد نکردم : زیرا در این مورد به وی هم عقیده بودم و از آن بعد ، هر دو با هم علیه « انحصار » رهبری « بیروکراتیک » حزب دموکراتیک خلق افغانستان در جبهه مبارزه می کریم .

محمد حسن بارق « شفعیی »

***

پوهنمل سرفراز « مومند »

د استاد سعید افغانی څخه یوه خاطره

زه غواړم د دغه منلی استاد د صنفی مبارزاتو په لړ کی یوه په زړه پوری خاطره پدی څو کرښو کی گرانو لو ستونکو ته وړاندی کړم . زه پدی لنډ لیکنه کی نه غواړم د استادانو د اتحادیی په باره کی ډیر څه وليکم بلکه غواړم د استاد سعید افغانی مدبرانه نقش او شخصیت په باره چی په خپل وخت کی د استادانو په اتحادیه کی لو بولی ؤ ، تقدیم کړم .

په د غه وخت کی د افغانستان د پوهنتونونو قانون خپور شوی ؤ ، چی د محصلینو او استادانو د جدی غبر گون سره مخامخ شو . په ۱۳۵۰ کال کی د محصلینو اتحادیه جوړ شوی وه ، ویل کیدل چی نومړی قانون غیر دیموکراتیک دی ، د استادانو او محصلینو حقوق پکی پوره په نظر کی ندی نیول شوی نو د استادانو د اتحادیی جوړیدل په همدغه وخت کی یو مبرم ضرورت گنل کیده تر څوچی د محصلینو د اتحادیی په څنگ کی د استادانو اتحادیه هم جوړه شی او د استادانو د دیموکراتیکو او صنفی غوښتنو د پاره مبارزه وکړی .

پدغه وخت کی کابل پوهنتون د سیاسی مبارزاتو ډگر ؤ ، د ټولو سیاسی جریانونو نمایندگان په پوهنتون کی محسوس ؤ ، د افغانستان د خلکو دیموکراتیک گوند دوه برخی « خلق او پرچم » ، د ماپوستانو گوند « شعله جاوید » ، فغان ملت ، صدای عوام او جوانان مسلمان فعالیت درلود . هر گوند به په مختلفو مواردوکی ځانگړی غونډی او تظاهرات تنظیمول خو په تاسف د دغه ډلو اکثر انرژی د یو بل په تخریب مصرف کیده او پدغه اساس همیشه صنفی هدفونه د سیاسی مرضونو قربانی کیدل ، دوخت دولت په د دی تضادونو څخه استفاده کوله او صنفی مبارزو به مطلوبه نتیجه نه ورکوله .

ښه می په یاد دی چی دغه وضع د استادانو د اتحادیی په جوړولوکی هم مسلطه وه ، هری ډلی غوښتل چی اتحادیی ته یی غړی انتخاب شی چی د ضرورت په وخت کی دغه صنفی اتحادیه د خپل سیاسی غرضونو د پاره استعماله کړی .

جلسی روانی وې ، تضادونه عمیق کیدل او بالاخره یوه جلسه دومره هیجانی شوه چی نژدی وه چی د استادانو اتحادیه چی د استادانو د صنفی ګټو یوا ځنی ر ښتنی مدافع وه جوړه نشی او غونډه ړنګه شی او دغه کلاس حق او دیموکراتیک غوښتنه په ځای پاتی شی .

سرفراز « مومند »
د ادبیاتو پو هنځی پخوانی استاد

***

داکتر سیدخلیل الله « هاشمیان »

شناخت من از مرحوم پوهاند دکتور سعید افغانی

صحبتها و دیدارهای من با پوهاند داکتر سعیدافغانی پیرامون اتحادیه استادان پوهنتون بود که اکثر اوقات مرحوم پوهاند فضل ربی پژواک نیر حاضر میبود. درین صحبتها ما با هم بسیار نزدیک شدیم زیرا نظرات مشابه داشتیم .
پوهاند سعید افغانی یک شخصیت اکادمیک بود و درآنزمان که جنگهای ایدیالوژیکی یگانه کانون علوم افغانستا ن - پوهنتون را تهدید بسقوط میکرد، سعیدافغانی برای نجات این موسسه خدمات قابل قدر انجام داده است .

پوهاند سعید افغانی از حمایت اسلام گرایان برخوردار بود، ولی ؛ با منطق قوی که داشت کمونستها و چپگرایان راهمیشه قناعت میداد و زمینه تفاهم را با آنها میسر میساخت که در اثر همین نوع میانجیگریها اتحادیه استادان پوهنتون ساخته شد.

داکتر سیدخلیل الله « هاشمیان »
***

انجینر محمد رحیم « یو سفي »

سوله او تفاهم د سعید افغاني له نظره !

مولانا سعید افغاني یوازی ملا امام ، خطیب او دیني مدرس نه وه ، بلکی دی هغه شخصیت و چی په سیاسي ډګر کی هم د چا څخه وروسته ندی پاتې شوی . د فقیرانو ، غریبانو او نورو مصیبت څپلو اولسونو د اخلاصون په خاطر یی د کورنې ارتجاع او نړیوال کړکیچ پر ضد د مبارزی بیرغ د تل لپاره رپاندی ساتلی دی .

ده جنګ نه خوښاوه ! او پردی یی تینګه عقیده در لوده : « چی کیدای شی ټولی لانجی او کشالی د سولې ، تفاهم ، استدلال ، منطق او خبرو له لیاره حل شی .

مرحوم سعید افغاني د سولې د لاری واقعي مبلغ و . ده خپل نظر په هر ه غونده ، محفل او مجلس کی په خورا صراحت سره څرګنده کړی دی .
دی لا په هماغه وخت کی پدی عقیده وو چی ملی روغه جوړه کولای شی د افغانانو تر منځ پل شی

او بالاخره د تفاهم پواسطه هرنوع لانجی د کلی څخه نیولی بیا تر علاقه داری، ولسوالی ، ولایت ، ښار ونو او آن تر مملکته پوری حل و فصل کړی .

ده به ویل چی : « ولی افغان د افغان ، انسان د انسان او مسلمان د مسلمان پواسطه ووژل شی او ولی پر انسانانو جنګ تحمیل شی .
ورور وژنه ، وینه تویونه ، قتل و قتال ولی زمونږ په تاریخي او سرلوړی افغانستان کی را پیدا شوی ، او ولی ؛ پای ته نه رسیږی !!!

انجینر محمد رحیم « یو سفي »

***

پوهاند داکتر محمد قاسم « جمدر »

په وطن مین یو ستر استاد

یو د دغسی هیواد پالو ، مبحرو عالمانو څخه استاد داکتر سعید افغانی دی ، چه ما ور سره پخپل ژوند کښی د ۱۳۴۶ هجری شمسی کال را دیخواه د بلدیت افتخار درلـود .

کله چی د کابل پولی تخنیک انستیتوت جوړ شو ، نو استاد سعیدافغانی پدغه انستیتوت کښی د اسلام او د افغانستان تاریخ تدریس په غاړه واخیست ، استاد پدغه وخت کښی د وطن د پیشرفت او ترقی د غورځنګونو سره یو ځای شو او همداسی څو ځله ئی په مظاهرو کښی ګډون او و ینا وی و کړی او د خپلو شاګردانو سره ئی یو ځای خپل د وطن پالنی احساسات ښکاره کړیدی .

استاد د ټولو هم مسلکانو او محصلانو سره ډیری ښی تودی اړیکی درلودلی ، هر هغه محصلان چه د استاد سعیدافغانی د شاګردی افتخار لری ، تر اوسه د هغه مهربان انسانی ، افغانی ، اسلامی استادانه احساس یادوی

پوهاند داکتر محمد قاسم « جمدر »
د کابل پولی تخنیک انستیتوت پخوانی استاد
****

انجینر سرور « صالح »

دیدګاه استاد بزرګوار مولانا سعید افغانی !

استاد سعید افغانی ؛ شخصیت با کمال ، مربی و رهنمایی دانا و با اعتماد همه بود و همیشه ما محصلین را نیرو وقوت می بخشید تا دقیق بیاموزیم و با متانت و ایمانداری درآبادی فردای وطن و خدمت به بشریت سهیم شویم !

روزی با استاد سعید افغانی در دیپارمنت « علوم اجتماعی ـ انستیتوت پولیتخنیک کابل » که خود امر آن بود ، پیرامون وضع جاری وطن و منطقه جرو بحث کردیم و استاد توضیحات عالمان

ارایه کرد و همیشه تاکید میکرد که حسن تفاهم باید تقویت بخشیده شود و زمینه های اعتماد بین مردمان به وجود آید ؛ در آن وقت امکانات عملی بخاطر کامیابی وطن و مردم مساعد میگردد.

استاد گفت : نباید فراموش کرد که دین همه صالحین و وطنپرستان این است تا همیشه با ایمان راسخ ، با تقوای وپاکی و با راستگاری و توام با علمیت و عمل مترقی و خیرخواهانه ثابت سازند که برای سعادت انسان در این جاده های پر خم و پیچ راهی هستند و در آینده خواهند بود!

در غیر از آن شما جوانان شاهد باشید ! که نه مردم وطن نه هم مردمان منطقه و جهانیان بالای فکر و عمل ما اعتماد و باور نخواهند کرد و آینده پر جنجال و تاریک در پیش روی همه قرار خواهند گرفت ، که حل آن کار ساده و بسیط نخواهد بود !
همچنان به وضاحت باید خاطر نشان سازم که : مردم بدون وطن ، و وطن بدون مردم مفهوم ندارد و بدون حرکت سالم و منطقی ، برکت و منفعت به وجود نمی آید .
چون شما قشر جوان و اگاه این جامعه هستید مشوره من به شما و همه جوانان این است که در جوانی خوب بیاموزید ؛ اهل علم و دانش شوید ؛ و توام با آن با صداقت ، ایمانداری و منطق سالم و سازنده ؛ در کوشش شوید تا باور، اعتماد و تفاهم مردم را بدست بیاورید .
به یقین گفته میتوانم که از یک جانب دین ایمانی خود را انجام داده اید و از جانب هم مردم بالای شما باور کرده و منحیث مدافعان و متخصصین آنها این وطن و این مردم فقیر را از مشکلات نجات داده میتوانید .

انجینر سرور « صالح »

***

خلیل « زمر »

یک معلم و یک رهنمائی خوب

استاد محمد سعید « سعید افغانی » در سال « ۱۳۳۹ » ، در جمع استادان و شاگردان لیسه عالی حبیبه کابل .

دقیق بیاد دارم که سال « ۱۳۴۱ هجری شمسی » بود و من در صنف دهم لیسه حبیبیه درس میخواندم ؛ مردی بلند قامت ،با وقار و سنگین که دارای لباس منظم وپاک و تمیز بود ، یکجا

با محترم محمد یعقوب سر معلم مکتب وارد صنف گردید و یعقوب خان موصوف را اینطور معرفی نمود : او محمد سعید افغانی نام دارد و پس از ین بشما مضمون تفسیر را تدریس خواهند نمود ، پس از این معرفی مختصر استاد سعید افغانی به تدریس آغاز نمود .

او با سایر معلمین علوم دینی که تا آن دوران من دیده بودم تفاوت کلی داشت ، موصوف شمرده و حساب شده حرف میزد ، با حوصله و با تمکین بود و در طول دو سالیکه اومعلم بود یکروز هم حالت عصبانیت و بی موازنگی را از او ندیدیم .
استاد سعید افغانی یک معلم مهربان بود و به همه گونه سوالات شا گردان پاسخ میگفت و این حرفهای استاد تا کنون در گوشم طنین انداز است : دین اسلام ، دین اخوت و دین برادریست ؛ عفو و گذشت بر انتقام و خشونت در آن برتری دارد .

خلیل « زمر »

****

محمد رحیم « یسفي »

د اروابناد مولانا ډاکتر محمد سعید « سعید افغاني »
د کار او جدو جهد په باب زما دسترګو لیدلې حالات

« دوخت په دولتي اداروکي به د معمول سره سم په هرو « ۳ » میاشتوکي به د قرطاسي د ځینو روغنیاتو ، پرزه جاتو او د اداري ضرورت او اړتیاوړ شیان خریداري کیدل .
مونږ هم د تخصیص او بودجي د تر لاسه کوولو څخه وروسته یوه اندازه پیسي د بانک څخه د حوالي او د قانوني مراحلو د طي کوولو څخه وروسته را ویستلي او د خریداري د هیئت په واک کي مو ورکړي، د دوورځو په ترڅ کي نومورې هیئت لازم شیان واخیستل او تحویلخاني ته مو وسپارل.

په حساب کي یوه نیمه افغاني فرق راغلې ؤ یاني زیاته شوې وه ، ما اسناد د لاسلیک او منظورې په خاطر ډاکتر صاحب ته وروړل ، هغه ولیدل چې یوه نیمه افغاني زیاته ده ماته ئې کړل چې بچیه !
« دا د ملت مال دي ؛ دا پاتي یوه نیمه افغاني به په یوه معقول ځاي کي مصرف کړي »
زه لاتر دي وخته پورې دده په پاکي ، صداقت او ایمانداري باندې تر دي دمه دومره باوړ نه وم ، اوریدلي مي وو ، خو لیدلي مي نه وو .
اوس چې مي عملاً ولیده نو باور و کړې چې د سرویښتان مي جګ پاتې شول، د ځا نه سره مي وویل چې یا الله :
خلک همدا اوس ، اوس په همدې انقلابي دولت کي اوښان د باره سره په بډو وهي او څوک پره نه خبرېږي ، ولي ؛ سعید افغاني یوې نیمې روپې ته کلک ولاړ دي چه دا د ملت مال دي ، او حتماً په یوه معقول ځاي کي مصرف شي !!!

محمد رحیم « یوسفي »
***

محمد حسن « مسرور »

خاطرات ماندگاراز استاد بزرگوار
مولانا دکتورسعیدافغانی

از اوانیکه هنوز بیش از یازده سالم نبود با اسمش آشنا شدم ، از بزرگان میشنیدم که در گهوارهء خانوادهء با معرفت بزرگ شده است.
پدرش مولوی عبدالمجید ، عالم جید آنزمان در فهم اصول ، حدیث، فقهه ، فلسفه و منطق از شهرت بسزایی برخوردار بود، شیفتگان علم و معرفت از دور ونزدیک بسراغش می آمدند و بخاطر کسب علم ودانش با زانو زدن یه پیشگاه او، کسب فیض میکردند.

مولانا سعید افغانی در چنان آغوش پر نور و معرفت بزرگ شد، راه پدر را پیش گرفت و غرض فراگیری دانش بیشتر شامل مدرسهء دارالعلوم عربی (یگانه کانون آموزش دینی آنزمان) گردید.

مولانا با داشتن استعداد سرشار ذاتی پیوسته مورد تقدیر و تشویق استادان قرار میگرفت ، بعد از فراغت درهمان مدرسه به مسلک شریف استادی گماشته شد و اما دیری نگذشت که مسولیت رهبری مدرسهء نجم المدارس را بدوش گرفت. دانش آموزان آن مدرسه بمدت ده سال از اندوخته های علمی اش بهره گرفتند. من نیز از او خاطرات ماندگاردارم واز جمله :

زمانیکه استاد مسولیت مدرسه ء نجم المدارس را داشت در حالیکه خود شاگرد مکتب بودم اقبال ملاقاتش میسرم شد، دراولین برخورد دریافتم که جاذبهء کلامشان خیلی اثر گذار و آموزنده است، خیلی آرام، ساده و متین صحبت مینمود و شنونده را بسادگی تحت تاثیر قرار میداد درهر جملهء صحبت او جهانی از مفهوم ومعنی نهفته بود.
شخص آزاد منش ضد استبداد وضد کرنش شناخته میشد، قاطعیت ومتانت کلامش به مزاج نان خوران بنرخ روز برابرنبود.

بخاطر دارم زمانیکه محمدظاهرشاه (پادشاه وقت) ازولایت ننگر هار بازدید مینمود « پادشاه معمولا همه ساله یکی دوبار به ولایات کشور سفر میکرد » و بروال همیشگی با بزرگان ، گروه ها واصناف مختلف همان محل به گفتگو میپرداخت .
مولانا سعید افغانی ؛ دریکی ازین مجالس از جایش بلند شد و با صدای رسا به پادشا گفت :
اعلحضرتا !
شما بهتر میدانید که ننگرهار یک ولایت مهم سرحدیست وهمسایگان محیل ومکارما پیوسته تلاش دارند تا زندگی مردم این جا را مختل سازند.
مردم این منطقه با پروبلم های متعدد که عمدتآ از جانب پاکستان ایجاد میگردد، مواجه اند.
لازم میافتد که یک نایب الحکومهء (والی) لایق و کاردان که توانایی لازم را در رفع این پروبلم ها داشته باشد، بخدمت مردم بگمارید و.. ....
این سخنان در حالی ایراد شد که نایب الحکومهء برحال خود عضو خاندان سلطنتی و از وابستگان دربار بود .
چنین صحبت دردورانی که استبداد واختناق بیداد میکرد چون بمی منفجر گردید و جو محفل را دیگرگون ساخت .

اختلافات میان نایب الحکومه و حواریونش با مولانا عمق و پهنای بیشتر یافت که دوام وظیفهء اودر چنان فضای غبارآلود مصلحت دیده نمیشد . بنآ ؛ مولانا رهسپار کابل شد و در یکی از مکاتب شهری مصروف تدریس گردید.
وی بعد از مدتی بحیث استاد منطق والهیات در کادر لیسهء عالی حبیبیه شهر کابل عز تقرر یافت که خوشبختانه این جانب نیز در صف شاگردان وی قرار گرفتم.
فهم ودانش، تمکین وبرخورد شریفانهء آگنده با دلسوزی ومحبت اوالگوی برازنده واستثنایی میان همه استادان آن لیسه بود.
موصوف نه تنها استاد بلکه دوست مهربان و پدر معنوی هر شاگرد شناخته میشد . مولانا در کنار تدریس غرض تنویر فکری شاگردان بکار فرهنگی نیز دست یازید و جریدهء هفتگی را بنام (اخلاق) در ویترین لسیه به نشر میسپرد که اینجانب نیز عضویت گروپ کاری آن نشریه را داشتم . « البته تاسیس این جریده قلمی ، نیم قرن قدامت تاریخی دارد » .

استعداد خاص مولانا در قالب محدود، امکانات آنزمان نمیگنجید ، لذا؛ غرض فراگیری مزید به جامعه الازهر مصر رفت و بعد از اخذ دیپلوم دکتورا بوطن باز گشت. و درهمان سال دفتری را به اسم « دارالمشورهء سعید افغانی » درجادهء سردارجانخان کابل گشود که به محل رفت وآمد روش بینان مبدل گشت.
هرگز فراموش نمیکنم :
وقتی بملاقاتش رفتم در پرسش نخست سطح جنیشها ووزنهء فعالیت های سیاسی میان جوانان را از من جویا شد واین جانب نیز درمحدودهء درک و گرایش فکری خودم پاسخ دادم .
سپس استاد خود به تحلیل اوضاع سیاسی پرداخت، از محتوای صحبت هایش دریافتم که مولانا علی الرغم آنکه تعلقی بکدام جریان خاص سیاسی ندارد . ولی؛ در کل ازهر جنبش روشنفکرانه ای که مبانی ملی ومردمی دا شته باشد ، حمایت میکند.

مسلمآ دولت های وقت نیازمند استفاده از توانایی علمی و استعدادش بودند لذا؛ در جمهوری سردار محمد داود خان به حیث عضو شورای عالی قضا و بعد از سال 1357 بحیث رئیس تمیز ستره محکمه « قاضی القضات » تقرر یافت و متعاقبا به ادارهء جدیدالتاسیس شوون اسلامی توظیف گردید.
به نیروی تدبر او این اداره با سرع وقت بپا ایستاد وتوانست بانفوذ سریع در جامعه روحانی کشور به کانون تجمع علمای دینی مبدل گردد.

مولانا سعید افغانی دردوران کارش درین وزارت علی الرغم تمام فشارها با توظیف مشاورین خارجی سخت مخالفت کرد.
او وجود مشاورین خارجی را درادارات دینی حساسیت برانگیز وفاجعه بار میخواند درحالیکه « درآنزمان وجود مشاورین خارجی درکلیه ادارات ملکی ونظامی نیازمندی وموود روز شمرده میشد » .
مولانا سعید افغانی بصراحت اذعان کرد، افغانستان یک کشور اسلامیست و وزارت شوون اسلامی نه تنها که به مشاور خارجی نیازمند نیست ، بلکه حاضراست بکشورهای دیگر در عرصه اسلامی ، کمک نماید.

مولانا دکتور سعید افغانی بمثابه یگانه متخصص و کاراگاه علوم دینی والهیات در کشور ؛ با بسیج کردن علمای و روحانیون افغانستان، جبهه ای سراسری را ایجاد کرد ودین اسلام را چنین معرفی و تبلیغ کرد :

« د اسلام مقدس دین ؛ د عشق ، محبت او جذبی دین دی !
د اسلام دیـن اساس او بنسټ یـو تـربـلـه د مینی ، ګـذاری ، مرسته ، تعاون ، ښو اخلاقو ، عفـو ، صلی ، صداقت او اخلاق په مبادیو درول شوی دی . » .

دوکتور سعید افغانی دناروغی په بستر کښی

ولی ؛ با دریغ ودرد که بیماری مجالش نداد و بعد از شصت وسه سال زندگی پر بار و پر افتخارش ؛ با مردم و جهان و داع کرد و بتاریخ « هفت حوت 1363 هجری شمسی ، مطابق 26 فبروری 1985 م » به ابدیت پیوست.

روانش شاد و یادش گرامی باد
محمد حسن « مسرور »
26 فبروری 2016 م ــ المان

*****

ترتیب کوونکی : معراج الدین « شمس »

د مولانا سعید افغاني د یودیرشم تلین په مناسبت
7 کب 1394 مطابق 26 فبروری 2016

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی